# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**11 جوزا _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

وزارت مهاجرین: کشورهای میزبان پناهجویان افغان قوانین را نقض نکنند ------------------------------------------1

یونان: شمار مهاجران غرق شده در نزدیکی جزیره میکونوس به ۹ تن رسید ----------------------------------------3

آلمانی کارپوه: زیاتې سوسیال مرستې مهاجر راجلبوي------------------------------------------------------------------4

سېف دي چلډرن: د مهاجرت پر لارو دې د نجونو ساتنه وشي -------------------------------------------------------5

د آلمان پولند پر سرحد د لازیات کنترول غوښتنه شوې-------------------------------------------------------------------7

تر ۳ زرو ډېر افغان کډوال له ایرانه افغانستان ته ستانه شوي---------------------------------------------------------8

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## وزارت مهاجرین: کشورهای میزبان پناهجویان افغان قوانین را نقض نکنند

طلوع نیوز

**محمد ارسلاح خروتی، معین وزارت مهاجرین و عودت کنندگان از کشورهای میزبان پناهجویان می‌خواهد که به حقوق جهانی پناهجویان تمکین کنند .**



**وزارت مهاجرین و عودت کنندگان، کشورهای میزبان پناهجویان افغان را به نقض حقوق جهانی پناهجویی، سوءاستفاده و اخراج اجباری متهم می‌کند.**

**محمد ارسلاح خروتی، معین مالی و اداری این وزارت به طلوع‌نیوز می‌گوید که شماری از کشورها به دلیل اهداف سیاسی و رسیدن به خواست‌های شان، از پناهجویان همچون ابزار فشار بر امارت اسلامی استفاده می‌کنند.**

معین وزارت مهاجرین و عودت کنندگان از کشورهای میزبان پناهجویان افغان می‌خواهد که به حقوق جهانی پناهجویان تمکین کنند.

محمد ارسلاح خروتی به طلوع‌نیوز گفت: «زمانی‌که میان دولت‌ها یا کشورها در فضای سیاسی پستی و بلندی‌هایی به میان میاید، آن زمان محسوس می‌شود، اثرات منفی و یا مثبت آن در مورد مهاجرین یا وضعیت مهاجرین معلوم می‌شود».

آقای خروتی در این گفت‌وگو می‌افزاید که پاکستان، ایران و ترکیه در زمینه ایجاد سهولت و برطرف کردن مشکلات پناهجویان افغان به تعهدهای خود عمل نکرده‌اند.

او تاکید می‌کند که شماری از کشورها برای ارایه فرصت‌ها و امتیازها به پناهجویان برخورد دوگانه دارند.

محمد ارسلاح خروتی افزود: «به ویژه در اروپا و غرب که آن‌جا آنان به قوانین بین‌المللی که در مورد مهاجرین متعهد استند، آن نیز به شکل درست مدنظر گرفته نشده و بر آن عمل نشده است».

از سویی‌هم، برخی باشندگان پایتخت می‌گویند که مهم‌ترین مساله‌ی کنونی جوانان و شماری از شهروندان کشور بی‌کاری و مشکلات اقتصادی است و به همین دو دلیل مجبور به ترک کشور می‌شوند.

احسان الله، باشنده کابل، گفت: «بزرگ‌ترین چالش همین است که از تحصیلات محروم استند. فقر افزایش یافته و به همین علت آنان مجبور می‌شوند که از کشور خارج شوند».

رامین، باشنده دیگر کابل گفت: «از جوانان این خواهش را دارم که کشور خود را ترک نکنند. همین خاک‌ات است. همین‌جا پیدا شدی و همین‌جا باید باشید».

درهمین حال، برخی از آگاهان مسایل سیاسی ایجاد فرصت‌های کاری و شغلی را در کاهش میزان مهاجرت شهروندان مهم می‌دانند.

میر شکیب میر، آگاه مسایل اقتصادی، به طلوع‌نیوز گفت: «فکر می‌کنیم بحران بشری، فرار مغزها و مسایل اقتصادی، فقر اقتصادی، علمی و فرهنگی باید ریشه‌کن شود».

برنبیاد آمارهای وزارت مهاجرین و عودت کنندگان، نزدیک به سه میلیون شهروند کشور در پاکستان، نزدیک به سه میلیون شهروند دیگر در ایران و یک میلیون هم در کشورهای دیگر بودو باش دارند.

## یونان: شمار مهاجران غرق شده در نزدیکی جزیره میکونوس به ۹ تن رسید

مهاجرنیوز



نگهبانان ساحلی یونان اعلام کردند که اجساد شش مهاجر دیگر را که در اثر واژگون شدن یک کشتی در روز جمعه گذشته در نزدیکی جزیره میکونوس غرق شده‌بودند، پیدا کرده‌اند. تا کنون شمار قربانیان این حادثه به ۹ تن رسیده است.

بر اساس خبرنامه‌ای که از سوی نگهبانان ساحلی یونان منتشر شده، روز سه شنبه اجساد ۴ زن و یک مرد از آب‌های جزیره میکونوس به دست آمد.

غواصان توانستند این اجساد را در ۳۰ متری عمق دریا، در داخل یک کشتی موتوری رابری پیدا کنند.

در خبرنامه گفته شده که جسد یک زن دیگر روز دوشنبه از صخره‌های ساحل جزیره آنتیپاروس به دست آمده است. جزیره آنتیپاروس متعلق به مجمع الجزایر سیکلاد است که در دریای اژه موقعیت دارد.

مقام‌های یونانی روز جمعه ۲۶ می از پیدا شدن اجساد سه مهاجر، دو زن و یک مرد، در نزدیکی جزیره میکونوس خبر داده بودند.

به گفته مقام‌ها، اجساد به دست آمده متعلق به سرنشینان یک کشتی مهاجران بود که از ترکیه به مقصد یونان حرکت کرده بود اما در آب‌های جزیره میکونوس غرق شد.

در همین زمینه :یونان: اجساد سه مهاجر از آب‌های جزیره میکونوس پیدا شد؛ چندین تن دیگر ناپدید هستند

دو تن از مهاجران که شناکنان خود را به ساحل میکونوس رسانده‌اند گفته‌اند که کشتی غرق شده حامل ۱۷ مهاجر بوده است. به این ترتیب، تا کنون شش تن دیگر از مسافران کشتی ناپدید هستند. به گفته نجات یافتگان، هیچ یک از مسافران واسکت نجات به تن نداشته است.

جزیره میکونوس در نزدیکی مسیر کالابرا در جنوب ایتالیا قرار دارد و از چندین ماه به این سو، مهاجران تلاش می‌کنند از سواحل ترکیه مستقیم به سواحل ایتالیا بروند. آنان این کار را به خاطر دور زدن کنترول نگهبانان ساحلی یونان انجام می‌دهند که تلاش دارند مهاجران را به سوی ترکیه عقب برانند.

حکومت یونان پیوسته به دلیل عقب زدن مهاجران از مرزهایش مورد انتقاد قرار گرفته است .روزنامه نیویارک تایمز روز جمعه گذشته ویدیویی را منتشر کرد که در آن ۱۲ مهاجر تازه وارد به جزیره ساموس، توسط نگهبانان ساحلی یونان به دریای اژه عقب رانده می‌شوند. این قدام در ۱۱ اپریل گذشته انجام شده است.

اتحادیه اروپا خواستار تحقیق در مورد این حادثه شده و نخست وزیر یونان تعهد بررسی در این زمینه را داده است .

در همین زمینه :داکتران بدون مرز: در یک سال حدود ۹۴۰ نفر از جزیره لیسبوس ناپدید شده اند

## آلمانی کارپوه: زیاتي سوسیال مرستي مهاجر راجلبوي

مهاجرنیوز



د مهاجرت آلماني کارپوه شتېفان لوفټ ویلي دي چې په آلمان کې د مهاجرو سره تر سره کېدونکي زیاتې مرستې د ناقونونه مهاجرت د زیاتېدو لامل دی.

د مهاجرت آلماني کارپوه، شتېفان لوفت د «دي ولټ» نومې آلماني ورځپاڼې سره په آلمان کې د مهاجرو سره د سوسیال مرستو څرنګوالی او د مهاجرت پر بهیر د اغېز په تړاو خبرې کړي دي .هغه ویلي دي: «څوک چې دا ادعا کوي چې د ژوند د شرایطو جذابیت او پر سوسیال مرستو او پاته کېدنې حقونه پر مهاجرت هیڅ اغېز نه لري، هغه ښایي مهاجرو ته د احمقانو په سترګه ګوري.» د هغه دا څرګندونې د یادې ورځپاڼې د چهارشنبې (د ۲۰۲۳ کال د می ۳۱ نېټې) د ورځې په ګڼه کې خپرې شوې دي.

شتېفان لوفټ ویلي دي چې مهاجرت نور مهاجرت ته لاره هواروي. هغه دغه عمل د مهاجرت زنځیر بللی دی او زیاته کړې یې ده: «په شبکو کې دا خبره دوره کوي چې په هیوادونو کې د قبلېدو چانسونه ښه دي، او دا چې اقتصادي بریا او دولتي ملاتړ شته دی«.

په آلمان کې د مهاجرت په تړاو تاوده بحثونه ادامه لري. د لوفټ په وینا په دغو مباحثو کې زیات وخت دا خبره نه منل کېږي چې ګواکې د آلمان زیاتې سوسیال مرستې د ناقانونه مهاجرت لپاره د مقناطیس په شان د راجذبولو لامل کېږي. د آلمان د کورنیو چارو وزیره نېنسي فیزر هم په دغه بحث کې یاد اټکل نه مني.

خو لوفټ وایي چې په آلمان کې د مهاجرت په تړاو تحقیق »په زیاته اندازه ایدیالوژیک استقامت» لري. د هغه په وینا په دې کې هغه باور هم راځي چې فکر کېږي مهاجرت عادي حالت دی او د دولتي اصولو په چوکاټ کې تنظیم او اداره کېدلای شي. د هغه په وینا درېیم زیات عام باور دا دی چې استعمار د لوېدیځ یوه میراثي پره ده او له دې کبله لوېدیځ هیوادونه د مهاجرو په اصلي هیوادونو کې د خرابو حالاتو مسؤل بلل کېږي او دا چې مهاجرت او پایلې یې باید په ځان ومني.

دغه کارپوه وایي چې په دې باور نه دی چې د مهاجرت له کبله په ټولنه کې بېلابېلتوب او د هغوی سره ګډېدل رامنځته کېږي. هغه وایي په تیوری کې دا ممکنه ده، البته په عمل کې بېلې ډلې د ښارونو په بېلو برخو کې سره راغونډېږي او هغه چې غواړي او امکان یې لري نورو ښاري برخو ته کډه کېږي.

## سیف دي چلدرن: د مهاجرت پر لارو دې د نجونو ساتنه وشي

مهاجرنیوز



**د «سېف دي چلډرن» مرستندويه سازمان د مهاجرت پر لارو له جنسي تاوتريخوالې څخه د نجونو د زياتې ساتنې غوښتنه کړېده .**

**د ماشومانو د ملاتړ او د حقونو د دفاع سازمان «سېف دي چلډرن» وايي چې نجونې بايد چې د مهاجرت پر لارو له جنسي تاوتريخوالي څخه لا په بهتره توګه وساتل شي. د ياد سازمان د مهاجرت کارپوهې، مايکه ريباو د چهارشنبې په ورځ په برلين کې په دې تړاو څرګندونې وکړې. د ريباو په وينا تر اوسه پورې مهاجرې نجونې د محافظت په تلاښ کې يوازې پرېښودل شوي دي .**

**دغې کارپوهې غوښتنه وکړه چې ژر تر ژره بايد داسي جوړښتونه رامنځته کړل شي چې له تاوتريخوالې او سوی استفادې څخه د نجونو او مېرمنو بهتره ساتنه وکړي.**

**د ماشومانو د حقونو دغه سازمان په خپل يو نوي راپور کې د هغې نظر پوښتنې پايلې خپرې کړي دي، چې له شمالي افريقا له هيوادونو مهاجرو شوو نجونو او مېرمنو څخه يې پکښې د هغوی نظر پوښتلی و .**



Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

د نظر پوښتنې پایلو ښودلې چې له پوښتل شوو څخه دویمه پر دریمه برخه مېرمنې او نجونې د جنسي تاوتریخوالي سره مخامخ شوې وې. پوښتل شوو مېرمنو د خپل مهاجرت له مهمو لاملونو څخه کورنی تاوتریخوالی، د جبري واده ګواښ، یا په کم عمر د واده ګواښونه یاد کړي دي.

یاد سازمان د خپلو پلټونو راپور د «له شمالي افریقا څخه نجونې د حرکت په حال کې» عنوان لاندې خپور کړی دی. ویل شوي چې په دې ترڅ کې له ۶۸ نجونو او ځوانو مېرمنو څخه د هغوی نظرونه پوښتل شوي دي .

د پوښتل شوو عمرونه د ۹ او ۲۴ کالونو تر منځ وو. له دوی څخه اکثریت له هغو افریقایي هیوادونو مهاجرې شوي چې د افریقایي صحرا په سویل کې واقع دي. اکثریت دغه مېرمنې د لیبیا، تونس او مراکش له لارې مهاجرې شوي. یاد درې هیوادونه و اروپا ته د مهاجرت لپاره مهم ترانزیتي هیوادونه دي

## د آلمان پولنډ پر سرحد د لازیات کنټرول غوښتنه شوي

دویچه وله




د آلمان د کورنیو چارو وزیره نېنسي فیزر ، د پناه غوښتونکو لوړ شمیر ته په کتو سره د جرمني او پولنډ ترمنځ سرحد د لا زیاتی څارنی غوښتنه کوي. آلمان ته ډېری پناه غوښتونکي له سوریې او افغانستان څخه راځي .

نانسي فيزر د سه شنبه په ورځ د پولند له سرحدي ښار شويکو څخه د ليدنی کتنی پر مهال وويل: زه پر دې ډاډه يم ، کله چی موږ د سرحدونو کنترول لاپسي زيات کړو ، بيا به نو د مهاجرو له خوا پر نوو فشارونو باندې په ګډه سره حاکم سو» د هغې په خبره په هوايی ترانسپورټ او ريلونو کی هم بايد لا زيات کنترول رامنځته سي .

فيزر د سپيني روسيې د مهاجرت له فشار څخه هم خبرې وکړې چی » د کنترول سوي مهاجرت د فشار يوه برخه هم ده.« د هغې په خبره دلته په سرحد او همدارنګه د سرحد په دواړو خواوو کی بايد تر پياوړو تدابيرو لاندې آلمان او پولند په ګډه سره د مهاجرو د فشار په وړاندې مبارزه وکړي. د سوسيال ډيموکراټ له ګوند څخه نوموړې سياستوالی په شويکو کی د پولند د کورنيو چارو وزارت له مرستيال ، بارتوخ ګروديکو سره د ليدنی کتنی پر مهال، د آلماني او پولنډي پوليسو پر ګډ کار او ګمرکي همکاريو باندې ټينګار وکړ.

د اروپا د احصايوی ادارو د نوو شميرو له مخی په اروپايی ټولنه کی د تير يوه کال په پرتله ، د روان کال له پيل راهيسي د پناه غوښتني څه د پاسه ۴۰ سلنه ډيری عريضې وړاندې سوې دي .په آلمان کی له مهاجرو او پناه غوښتونکو څخه د ملاتړ اداري(بامف) په اولو څلورو مياشتو کی ۱۱۰ زره ۵۱۶ عريضې ثبت کړي او په دې ډول د تير کال په پرتله د هغو شمير پوره ۷۸ سلنه زيات سوی دی.د پناه غوښتنی ډيری عريضې د سورياپانو او افغانانو له خوا وړاندې کيږي .

فيزر په تکرار سره د پناه غوښتنی د يوه ګډ اروپايی سيستم په جوړولو کی د پرمختګ غوښتنه کړې ده. د اروپايی ټولنی پر هيوادونو باندې د پناه غوښتونکو عادلانه ويش او همدارنګه له اروپايی ټولنی څخه دباندې د سرحدونو لا زيات کنترول بايد ددغه سيستم يوه برخه وي.

پولنډ د اروپايی ټولنی د غړو په هغو هيوادونو کی راځي چی په تيره بيا د پناه غوښتونکو د ويش په هکله د پرمختګونو مخه نيسي. ددغې موضوع په هکله به د اروپايی ټولنی داخله وزيران د جون د مياشتي پر اتمه نيټه په لوکزامبورګ کی يو وار بيا بحثونه وکړي.

### تر ۳ زرو ډير افغان کډوال له ايرانه افغانستان ته ستانه شوي

دويچه وله




**د طالبانو د کډوالو چارو وزارت ویلي، له دې ډلې یوشمېر یې د مرستو په موخه د کډوالۍ نړیوال سازمان ته ورپیژندل شوي دي.**

**د طالبانو اداري د کډوالو چارو وزارت وایي، ۳زره او ۱۸۶ افغان کډوال تېره ورځ (د ۲۰۲۳ میلادي کال د مۍ ۲۹مه) د اسلام کلا له لارې افغانستان ته راستانه شوي دي.**

**ددغه وزارت په ټویټرپاڼه لیکل شوي: «د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې ۸۸۲ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور وپېژندل شول«.**

**د طالبانو د کډوالو چارو وزیر ویلي چې راستانه شویو کډوالو لپاره د کاري زمینو برابرولو پلان ترلاس لاندې لري.**

**هغه ددغو افغان کډوالو تر راستنېدو یوه ورځ وړاندې پر نړېوالو غږ کړی وو چې افغانانو سره بنسټیزې مرستې وکړي.**

**اړوند مطالب:له ایران څخه په یوه میاشت کې ۶۴ زره افغان کډوالو ایستل شوې**

**طالب چارواکي داسې مهال له ایرانه د زرهاوو افغان کډوالو د راستنېدو اعلان کوي، چې ددې ډلې په واکمنېدو سره افغانستان کې بې وزلي ډېره شوې او د بې کارۍ کچه هم ورځ په ورځ لوړېږي.**

**د خوړو نړېوال پروګرام یا WFP یو تازه رپوټ ښیي چې د نړۍ په اتلسو هېوادونو کې چې افغانستان هم په دې نوملړ کې شته، لوږه او بې وزلې د ډېرېدو په حال کې ده.**



Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

خبرنامه